# د Coronavirus (COVID-19) ازموینه (معاینه کول)

که تاسي د Coronavirus (COVID-19) په هکله پوښتني لرئ، د کرونا د ویروس ۲۴ ساعته تیلیفوني کرښي ته په ۱۸۰۰۶۷۵۳۹۸ شمیره زنګ ووهئ.

د دي د معلومولو لپاره چي تاسو د Coronavirus د معاینه کولو لپاره چیرته ولاړ شئ، د کرونا د ویروس ۲۴ ساعته تیلیفوني کرښي ته په ۱۸۰۰۶۷۵۳۹۸ شمیره زنګ ووهئ او یا د https://www.dhhs.vic.gov.au/getting-tested-coronavirus-covid-19 څخه لیدنه وکړي.

که تاسي ترجمان ته اړتیا لرئ، لومړی ۱۳۱۴۵۰ ته زنګ ووهی، بیا د کرونا دویروس د مستقیمي تیلیفوني کرښي غوښتنه وکړئ یا له هغوي څخه وغواړي چي وبیپانه ستاسو لپاره وګوري.

تاسو کولي شئ نور ترجمه شوي معلومات په https://www.coronavirus.vic.gov.au/translations کي ومومئ.

## د کرونا د ویروس لپاره معاینه کول په ویکتوریا کي د تولو خلکو لپاره وړیا ده، چي بهرني زده کوونکي، هغه کسان چي پناه غوښتونکي دي او یا له بهر څخه لیدو ته راغلي پکي شامل دي

د کرونا د ویروس معاینه د هر چا لپاره وړیا ده. پدي کي هغه خلک چي Medicare کارت نلري هم شامل دي، لکه د بهر څخه راغلي لیدونکي، بهرني زده کونکي، مهاجر کاریګر او پناه غوښتونکي وي.

که تاسي یي نښي او علائم لرئ، تاسي کولای شئ په لاندي ځایونو کي وړیا معاینه وکړئ:

- د ویکتوریا په روغتونو دکرونا دویروس (Acute Respiratory Assessment Clinic) کلینیک
- د تولني روغتیایي مرکز د تنفسي ارزوني کلینیک (Community Health Centre Respiratory Assessment Clinic)
- په مغازو (shopping centre) کي د موټر سره په داخلیدو (drive-through) کلینیک
- یو سیمه ایز (walk-through) کلینیک.

## څوک باید د کرونا د ویروس لپاره معاینه وکړي؟

که تاسي لاندینی نښي لری نو باید د کرونا د ویروس لپاره معاینه وکړي:

- تبه
- سړه تبه
- توخیدل
- د ستوني درد
- د ساه لنډي
- بهیدونکي پوزه (زکام)
- د بوی کولو حس له لاسه ورکول

حتي که ستاسي نښي او علائم لږ هم وي، تاسو باید معاینه وکړئ.

## کله چي تاسي معاینه وکړئ بیا څه پیښیږي؟

کله چي تاسو معاینه وکړه، ستاسو څخه به د پېژندنې یو ډول سند او د اړیکې نیولو معلومات وغوښتل شي. که تاسو Medicare کارت نلرئ، مهرباني وکړئ د پېژندنې اسناد، لکه ستاسو د موټروانۍ لایسنس، پاسپورټ، د ټرانسپورټ د تخفیف کارت یا د زده کونکي د هویت کارت در سره راوړئ. د معاینې کلینیک اړتیا نلري چي ستاسو د ویزې په وضعیت پوه شي.

د کرونا د ویروس معاینه به نرس، ډاکټر یا یو روغتیایی مسلکي کس ترسره کړي. دوی به ستاسو د ستوني او پوزې د وروستی برخې څخه لعاب واخلي. دا معاینه شاوخوا یوه دقیقه وخت نیسي.

## ایا زه د کرونا د ویروس د معاینه کولو څخه وروسته د ځان ګوښه کولو ته اړتیا لرم؟

که تاسي یې نښې ولرئ نو تاسو ته به د ډاکټر یا د روغتیایي پاملرنې د کارکوونکي لخوا څخه خبر درکړل شئ چي تاسي باید خپل ځان ګوښه کړئ تر هغه چي ستاسو د معاینې پایله ترلاسه شي. دا پدې معنی ده چي تاسي د معاینې څخه وروسته سمدلاسه کور ته ځئ او په کور کې پاتې کیږئ تر هغه چي تاسو د خپلې ازموینې پایله ومومئ.

ستاسې ډاکټر یا کلینیک چیرې چي تاسو معاینه شوې یاست دوی به له تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو تاسو ته ووایي چي ستاسو پایله د کرونا ویروس لپاره مثبته یا منفي ده.

## د نتیجې ترلاسه کول څومره وخت نیسي؟

د معاینه کولو څخه وروسته د دنتیجې ترلاسه کولو لپاره معمولا د ۱ څخه تر ۳ ورځو پورې وخت نیسي. که چیرې ډیر خلک معاینه کیدل، نو ممکن ستاسې د پایلې ترلاسه کول به تر ۵ ورځو پورې وخت ونیسي.

که تاسو د خپلو پایلو په اړه پوښتنې لرئ، نو له کلینیک یا روغتون سره اړیکه ونیسئ چیرې چي تاسو معاینه شوې یاست.

که ستاسو معاینه په مغازو کې د موټر په داخلیدو (drive-through) کلینیک کې شوې وی او تاسې د ازموینې د پایلو لپاره له ۵ ورځو څخه ډیر منتظر یاست، مهرباني وکړي د کرونا د ویروس د ۲۴ ساعته مستقیمې ټیلیفوني کرښې سره په ۱۸۰۰۶۷۵۳۹۸ شمیره زنګ ووهئ. زموږ ټیم به تاسو سره ستاسو د پایلو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. د مغازو د موټر په داخلیدو (drive-through) د کلینیک مرکزونه به ستاسو سره د معاینې د پایلې په ترلاسه کولو کې مرسته ونشي کړئ، نو لطفاً د خپلې پایلې لپاره له دوی سره اړیکه مه نیسئ.

تاسو ته به د خپلې معاینې د پایلې په اړه ویل کیږي، حتی که دا منفي پایله هم وي. که ستاسو د معاینې پایله مثبته وي، د روغتیا او بشري خدماتو ریاست (Department of Health and Human Services) څخه به یو څوک ستاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو له تاسي څخه نور معلومات ترلاسه کړي او تاسو ته ووایي چي څه وکړي.

په هغه بڼه چي دا خپرونه ترلاسه کیدای شي د حاصلولو لپاره Emergency Management Communications ته بریښنالیک واستوئ <em.comms@dhhs.vic.gov.au>

Authorised and published by the Victorian Government, 1 Treasury Place, Melbourne.

© State of Victoria, Australia, Department of Health and Human Services May 2020.

ISBN/ISSN 978-1-76069-423-4 (online/print)

Available at Translated resources - coronavirus disease (COVID-19) <https://www.dhhs.vic.gov.au/translated-resources-coronavirus-disease-covid-19>